په پام کې ده چې دغه سند وژباړل شي او خپور شي تر څو په LinkedIn کې د غړيو په خوندي پاتې کېدو کې مرسته وکړي.

LinkedIn ژمند دی چې خپل غړي خوندي وساتي. که چېرته غړي غواړي خپل شتون په LinkedIn کې محدود کړي، هغوی کولای شي خپل حساب غير فعال، بند او يا خپل د حساب تنظيماتو ته بدلون ورکړي.

غير فعالولو. غير فعالول، د غړي ټول فعاليتونه پټوي. کله مو چې خپل حساب غير فعال کړ، ستاسو حساب هېڅا ته نه ښکاري او تاسو به په LinkedIn کې په هېڅ پلټنه کې را څرګند نشئ. ستاسو پيغامونه، پوستونه او تبصرې پاتې کېږي مګر تاسو به يواځې د LinkedIn د غړي (A LinkedIn member) په توګه پېژندل کتل کېږئ. تاسو کولای شئ LinkedIn ته په ننوتو (logging) سره خپل حساب بياځلې فعال کړئ.

خپل د حساب د غير فعالولو له پاره،

- د LinkedIn د کورپاڼې په پورتنۍ برخه کې د "Me" پر آيکن کلېک وکړئ او Settings & Privacy وټاکئ.
- په ښکته برخه کې Settings & Privacy وټاکئ.
- د حساب د لومړيتوبونو په پاڼه (Account preferences tab) کې د حساب د مديريت برخې ته ولاړ شئ او د حساب غير فعالولو (Hibernate) ته نږدې پر Change کلېک وکړئ.
- د پلې کېدا وړ (applicable) غوراوی وټاکئ، کوم چې ستاسو د حساب د غير فعالولو دلايل روښانه کوي.
- خپل کوډ وليکئ او د حساب پر غير فعالولو (Hibernate account) کلېک وکړئ تر څو د غير فعالولو پروسه بشپړه شي.
- په ياد ولرئ چې تاسو هر کله وغواړئ، کولای شئ خپل حساب بيا ځلې فعال کړئ.

بندول. ستاسو د حساب په بندولو سره، ستاسو حساب او ټول مواد حذف کېږي.

خپل د حساب د بندولو له پاره،

- د LinkedIn د کورپاڼې په پورتنۍ برخه کې د "Me" پر آيکن کلېک وکړئ.
- په ښکته برخه کې Settings & Privacy وټاکئ.
- د حساب د لومړيتوبونو په پاڼه (Account preferences tab) کې د حساب د مديريت برخې ته ولاړ شئ او بندولو (Close) ته نږدې پر Change کلېک وکړئ.
- خپل د حساب د بندولو دليل و ګورئ او پر وروستي (Next) کلېک وکړئ.
- خپل د حساب کوډ وليکئ او د حساب پر بندولو (Close account) کلېک وکړئ.

په ياد ولرئ چې د LinkedIn د اپليکېشن حذف کول هم ښايي مناسب وي، مګر دغه کار به ستاسو پروفايل غير فعال نکړي. له LinkedIn څخه د خپل پروفايل د حذف کولو له پاره بايد خپل حساب غير فعال يا بند کړئ.

که غواړئ په LinkedIn کې ستاسو شتون محرم وي، تاسو کولای شئ خپل د محرميت تنظيماتو ته بدلون ورکړئ

- هغه کسان تاسو ته له پيغام استولو څخه منع کوئ چې ستاسو د شبکې غړي نه دي تر څو له ناغوښتل شويو اړيکو څخه مخنيوی وشي
- ځانګړي کسان د بندولو له ځانګړنې "block" څخه په ګټې اخيستنې بند کړئ
- کابو کړئ چې کوم کسان کولای شي په LinkedIn کې تاسو ته د اړيکې غوښتنه در واستوي
- کابو کړئ چې ستاسو پروفايل څه ډول له LinkedIn څخه غلې وښودل شي، لکه د پلټنې محرکونه
- خپل د ايميل آدرس، د اړيکو لېست او تخلص محدود کړئ
- نور د ايميل آدرس او يا موبايل شمېرې او تخلص له لارې ستاسو له موندلو څخه نور منع کړئ.

د نورو معلوماتو له پاره د LinkedIn د خونديتوب مرکز (LinkedIn Safety Center) ته مراجعه وکړي، دغه مرکز لا ډېر معلومات چمت کوي، چې تاسو څه ډول کولای شئ خپل ځان خوندي او مصئون کړئ. د لا ډېرو او نويو معلوماتو له پاره په مهربانۍ سره زمونږ رسمي بلاګ ته مراجعه وکړئ.